# مطبوعاتی خبرپانه

## د افغانستان – آذربايجان سوداګريز تواصل کنفرانس په کابل ښار کې ترسره شو

**نېټه: دو شنبه، د سلواغي د مياشتي۱۸ مه نېټه، د ماسپښين ۰۱:۳۰ بجه**

**پته: کابل سرينا هوټل**

د افغانستان – آذربايجان سوداګريز تواصل کنفرانس د دوشنبي په ورځ د سلواغي د مياشتي په ۱۸ مه نېټه د کابل سرينا په هوټل کې پرانيستل شو.

دغه کنفرانس د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې او د آذربايجان د صادراتو د پرمختګ او د پانګونې اداري (AZPROMO) په واسطه ترسره شوه.

د آذربايجان  سوداګريزې پلاوې، چې مشر يې د آذربايجان د پانګونې او د صادراتو د پرمختګ د اداري مرستيال ښاغلي عبدالله يوف کوله دی د دوشنبې په ورځ د سلواغي د مياشتي په ۱۸ مه نېټه کابل ښار ته ورسيد او پدې کنفرانس کې يې ګډون وکړ.

د دې پلاوې په جوړښت کې د آذربايجان هېواد د مختلفو سکتورونو لکه د کور توکي، مبل او فرنيچر، لبنيات، د چايو توليد، د بسته بندۍ صنعت، معدني اوبه، د چرګانو او د کرنې د سکتورونو استازي او د افغانستان د خصوصي سکتور غړي د يادو برخو څخه  ګډون درلود.

د دې کنفرانس په څنډه کې، د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې او د آذربايجان د صادراتو د پرمختګ او پانګونې اداري (AZPROMO) ترمنځ د سوداګريزو او اقتصادي اړيکو د لا ټينګښت او د دوه اړخيزو مرستو د لا پراختيا په موخه يو تفاهم نامه هم لاسليک شوه.

د يادونې وړ ده، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه ۴۰ مليونه ډالرو ته رسيږي، چې ۳۶ مليونه ډالر واردات او ۳,۴ مليونه ډالر صادارت دي. د افغانستان صادرات قيمتي کاڼي او د آذربايجان څخه واردات اکثره خوراکي توکي دي.